SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال ځلوېښتمه گڼه پرله پسی (٣٢٧) یکشنبه د ١٤٢١ هـ.ق کال
د ربیع الاول (٩) د ١٣٧٩ هـ.ش کال د غبرگولی (٢٢) د ٢٠٠٠ میلادی کال د جون (١١)

الهی فرمان

عدل(انصاف) وکړئ تاسی !
همدا (عدل) ډېر نږدې دی
تقوا (پرهیزگاری) ته .
(سورهء المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید .

نطاق وزارت امور خارجه ا.ا.ا :

استاد ربانی به نماینده گی از دولتی به این اجلاس دعوت شده که درماهیت امر اصلاً وجود ندارد

ا.ا.ا با حاکمیت موثر آن بر بیش ازنود فیصد قلمرو کشوربه خوبی میتواند در چنین نشست ها ازملت افغانستان نماینده گی نماید

اظهارات نطاق وزارت امور خارجه در رابطه به اشتراك استاد ربانی دراجلاس سران ایکو بحیث نماینده افغانستان- ٨ ربیع الاول ١٤٢١ هجری قمری مطابق ١٠ جون ٢٠٠٠ میلادی کابل افغانستان

مردم مصیبت دیده افغانستان مدتهاست که در موضعگیریهای خصمانه یك تعداد از کشورهای معین درگیر آلام ومصایب اند ، پیگیری و اصرار بر چنین موضعگیریها اسباب این همه نابسامانیها را در افغانستان فراهم نموده است .

در بعضی حالات دیده شده است که نه تنها اتخاذ چنین موضعگیریها ، دشمنی ونیات سؤ آنها را

٤ مخ

په افغانستان باندی د نویو بندیزونو په اړه د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کی :

مونږ یو ځل بیا په نړیواله سطحه د افغانانو د مظلومیت غږ پورته کوو

اسلامی امارت په وار وار اعلام کړی چی په افغانستان کی تروریستی اډی نشته که څوک شک لری زمونږ هیوا د ته دی سفر وکړی

رښتینی تروریستان د روسیې واکمنان دی چی لاسونه یی د ملیونونو انسانانو په وینو سره دی

د تروریزم په پلمه اقتصادی بندیزونه په هغه چا لگیږی چی دوی خپله د تروریزم قربانی دی

که په افغانستان اوسنی نافذ بندیزونه لری نشی نړیوال به په دی هیواد کی د یوه ستر انسانی ناتار شاهدان واوسی

مونږ هیله لرو چی د امنیت شوری نور غړی به د امریکا او روسیې اصلی هدفونه تشخیص او له هغوی سره به ملگری نشی

پداسی شرایطو کی چی د افغانستان خلک د څو وروستیو لسیزو په اوږدو کی د ډیری سختی وچکالی له امله له سختو اقتصادی مشکلاتو سره مخامخ دی او دغه ستر بشری ناتار د ملیونونو انسانانو ژوند له گواښ سره مخامخ کړیدی .

پداسی شرایطو کی چی افغانستان له بهرنی تیری څخه نیولی د لاس وهونکو له خوا تر سمبال شوی کورنی جگړی او د افغانستان د

٤ مخ

طی نشستی :

در مورد حفظ جنگلات اقدامات لازم صورت گرفت

بخاطر حفظ و نگهداشت جنگلات در ولایت سمنگان و مواظبت بیشتر ازاشجار پسته دران ولایت دیروز جلسه دایر گردید .

آژانس اطلاعاتی باختراز شهر ایبك خبرمیدهد .

دراین جلسه مشترك که از سوی شورای علمای کرام شورای اداری ، موسفیدان ، مسوولین ارگانهای امارتی و قوماندانان ولایت سمنگان [illegible] یافته بود محترم [illegible] عبدالمتین «عاطفی» والی ولایت سمنگا[ن] ضمن صحبتی اشجا[ر] پسته را به مثابه ما[ل] بیت المال وظیفه هر فر[د] مسلمان دانسته تاکی[د] داشت باید جلو [illegible] استفاده از جنگلا[ت] پسته گرفته شود .

همچنان در این جلس[ه] بخاطر مواظبت از جنگلا[ت] کمیسون تعین و موظ[ف] گردید.

مولوی محمد یعقوب «قانع»

همه ما مکلفیت داریم که وظایف خویش را با در نظر داشت منافع علیای ملت انجام دهیم

محترم مولوی محمد یعقوب قانع که بحیث معین شاروالی کابل تقرر حاصل نموده اند قبل از ظهر دیروز طی محفلی به رؤسا و مامورین مربوط شاروالی معرفی و رسماً به کارآغاز نمود .

آژانس اطلاعاتی باختر خبر میدهد :

دراین محفل که با تلاوت آیات چند متبرکه قرآن عظیم الشأن آغاز یافت نخست محترم مولوی

٤ مخ

این همه موسسات این همه مشکلات

به شمول ملل متحد ٣٠٧ موسسه غیر حکومتی در افغانستان فعالیت دارد

انجنیر زلمی آمرموسسات غیرحکومتی وزارت پلان

در بخش ترانسپورت «٧٥٥» عراده موتر در خدمت این موسسات قرار دارد

مولوی اسدالله «نصری» آمر جواز سیر ریاست ترافیك

در سال ٢٠٠٠ ملل متحد ٢٢٠ ملیون دالر را برای کمک به افغانستان اختصاص داده است

انجنیرمحمد بهلول مسئول موسسات ملل متحدوزارت پلان

امروز موضوع عدم برسمیت شناختن ا.ا.ا - از جانب سازمان ملل متحد و سایر کشورهای جهان سرگرمی خوبی را برای یکتعداد موسسات غیر حکومتی و زمینه بهتر کاریابی را برای کارمندان این موسسات در داخل کشور مساعد ساخته است.

این موسسات در پهلوی کمك های انسانی و بشردوستانه خویش قویاً دولتی را در درون دولتی ایجاد نموده اند.

به این معنی که امروز در کنار هر وزارت ا.ا.ا چندین وزارت خانه دیگر در همان بخش از جانب این موسسات ص٣

د کابل ښار په مربوطاتو کی

یوه اندازه چرس ترلاسه شول

د کابل ښار په مربوطاتو کی پرون یوه اندازه چرس کشف او عامل یی ونیول شو .

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د کورنیو چارو وزارت له جنایی جرمونو سره د مبارزی د لوی ریاست د قاچاقو د بندولو د عمومی آمریت د موظفینو د هڅو او هاند له امله د کابل ښار د اتمی ناحیی په مربوطاتو کی یوویشت کیلو گرامه چرس کشف او ترلاسه شویدی.

خبرځای وویل د دغو چرسو عامل هم د امنیتی موظفینو له خوا نیول شویدی او قضیه تر جدی تحقیق او څیړنی لاندی ده .

په پېښور کی د مهاجرینو لخوا :

په افغانستان باندی د روسیې د احتمالی برید په خلاف مظاهری وشوی

په افغانستان باندی د روسیې د احتمالی برغل پرخلاف د اعتراض په توگه په پېښور کی د افغانی مهاجرینو په کمپونو کی پراخی مظاهری وشوی .

د پېښور له ښار نه د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په پېښور کی د ناصر باغ ، صوابیو ، کچه گړی

٤ مخ

د پنجشیر - تخار د لاری په اوږدو کی :

مخالفینو په شوکماری لاس پوری کړ

د افغانستان د اسلامی امارت مخالفینو د خلکو پرخلاف د خپلو شرمونکو جنایتونو په تعقیب په دی وروستیو وختو کی د پنجشیر او د تخار د لارو په اوږدو کی د مسافرانو مالونه او شتمنی لوټی کړی .

د باختر اطلاعاتی آژانس د باوری خبرځایونو له خولی خبر راکړ څه موده مخکی د مخالفینو دوو تنو قوماندانانو هریو قوماندان برات او قوماندان مراد د تخار او پنجشیر ترمنځ ترانسپورتی لاره وتړله او د

٤ مخ

امریکی د چیچن په اړه د روسیې پر تصمیم نیوکه وکړه

د امریکا متحدو ایالاتو په چیچن کی د مستقیم حکومت د عملی کولو په باب د روسیې د جمهور رئیس ولادیمیر پوتین په تصمیم باندی انتقاد کړیدی .

د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ویندوی ریچارد بوتلر وویل دغه اقدام د چیچن جمهوریت د کړکیچ له حل کولو سره مرسته نه کوی بلکی هغه لا پسی پیچلی کوی .

ده د روسیې له مقاماتو څخه وغوښتل چی د چیچن له مشرانو او استازو سره خبروته حاضر شی .

په چیچن باندی د روسیې د مستقیم حکومت د

٤ مخ

د هرات په ولایت کی :

په ٢٠٣ بابه مدرسو کی د ٣٠٠٠ ښوونکو لخوا تعلیمی چاری پرمخ بیول کیږی

شریعت :

د هرات ولایت علم پاله ولس لکه څنگه چی ښه روښانه علمی او ثقافتی لرغونی تاریخ لری اوس هم د علماو ثقافت سره د بی ساری مینی له کبله د خپلو بچیانو د ښې روزنی او پالنی په لاره کی د تعلیمی ادارو او مدرسو د مسئولینو سره هراړخیزی

٤ مخ

اریتریا او ایتوپیا د افریقا د یووالی تولنی وراندیز ومانه

د اریتریا د بهرنیو چارو وزارت د خبر له مخی دغه هیواد د دواړو هیوادونو ایتوپیا او اریتریا ترمنځ د

٤ مخ

لبنان به جنوب آنکشور یک نیروی هزارنفری می فرستد

کشور لبنان در نظر دارد در شروع هفته آینده، یك نیروی امنیتی متشکل از هزار عسکر را در مناطق آزاد شده جنوب آنکشور ارسال دارد .

طبق گزارش منابع خبری لبنان مرکز قوماندانی این

٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

په افغانستان د روسانو د تیری گواښ او د ربانی - سیاف معنی لرونکی سکوت

له نن څخه شل یو ویشت کاله وړاندی د امریکا په گډون تولو نړی د هغه وخت د شوروی اتحاد د زور ، قوت او ځېکبلاکگر حس څخه په ویره کی وه او تولی نړی تقریباً په یو غږ په مستقیم او غیر مستقیم ډول د روسانو او د هغو ترڅنګیل لاندی هیوادونه یا په بله وینا د هغوی امپراطوری د نړی زبر ځواک یا سوپر طاقت په توگه منل او هر چا تری امان غوښت خو افغان مجاهدینو په تش لاس د الله (ج) په مرسته داسی غاښ ماتوونکی او نه هیریدونکی ماتی ورکړه چی نوم یی د نړی له نقشی څخه ورک ، حیثیت یی له سوپر څخه صفر سره مساوی او له شرمه یی چاته کتلی نشول او

٢ مخ

کوفی انان

د لبنان له جنوب څخه دی د اسرائیلو وتل گرندی شی

د ملگرو ملتو د سازمان سر منشی کوفی عنان ویلی دی د لبنان له جنوب څخه د اسرائیلی عسکرو د وتلو د رسمی تائید بهیر باید په زیات گړی توب سره ترسره شی .

د ملگرو ملتو د سازمان مقامات وایی د دواړو هیوادونو ترمنځ د سرحدی پولو د په نښه کولو کار پای ته رسیدلی دی او په اوس وخت کی د اسرائیلو د په شانگ د تائید لپاره پ[ه] لازمو څیړنو بوخت دی چی د ملگرو ملت[و]

٤ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد «فاروق»
دبوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
توزیع او شکایات : ٦۲۸۵۹
جاري حساب : ٤۰۳۸۵ / ۷ د افغانستان بانك مركز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

نړیوال یی هم د خپلو وینو په نذرانی سره د دی سری بلا له خولی څخه خلاص کړل او داسی اټکل کیده چی روسان به نور هیڅکله د تیری فکر او خیال ---- او په ځانگړی ډول د افغانانو په وياړ من هیواد برغل ته زړه ښه نه کړی . خو له بده مرغه چی یی حسه نړیوالو د افغانانو دا حماسه او ویاړ لکه څرنگه چی مناسب وه استقبال نه کړه او د خپل مطلب ترحده یی یاری وکړه ، د افغانان دا ستر احسان یی ډیر ژر هیر کړ چی ددی یی حسه نړی یی تفاوتی له یوی مخی او په ولس او، امارت باندی د پردیو د مزدورانو تپل شوی جگړی له بلی خوا روسانو ته دا جرئت ورکړ چی د خپلي ماتي د غچ اخیستو لپاره د هغه مار په څیر چي ښه ټپي شوي او وهل شوي وي خو لا ساپکي پاتي وي ډیر ژر بیا گواښونه پیل کړو نړیوالو به د روسانو د تیری اونی گواښونه او دړکی اوریدلی وی چی د چیچنیایی مجاهدینو د مرکزونو په پلمه یی د افغانانو په خاوره د بیا تیری په اړه افغانان او نړیوال مخاطب کړل .

که څه هم د دوی دا گواښ خو د دوی د نوموړی ماتی خوړلی تیری په څیر ، د ملگرو ملتونو د وېډی اداری په شمول د ټولی نړۍ لخوا له جدی غبرگون سره مخ او دایی د روسانو د حافظی کمزورتیا،د احساساتو پیاوړتیا او حماقت وباله او روسانو ته یی خبرداری ورکړ چی بیا تېره سهوه او اشتباه تکرار نه کړی . خو خبره دلته په هغو دو و په اصطلاح پروفیسورانو ، سیاف او ربانی ده چی د جهاد د رهبرۍ ، د مجاهدینو (قیادت)،د افغانستان د جمهوری ریاست د واکمنی ، دولس د استازیتوب،د هیواد او خاوری د مځکی د بشپړتیا د ساتنی په وړاندی د ځان د مسئولیت دعوه هم لری او سره ددی چی ټولو افغانانو په یو اتفاق سره د روسانو دا گواښ وغانده او له روسانو سره دوهم ځل مقابلی او جهاد ته یی چمتووالی څرگند کړ دوی ولی د روسانو په دی گواښ چپوالی غوره کړ ، آیا دوی افغانان نه دی ؟ آیا دوئ ځان ددی خاوری بچیان نه بولی ؟

حقیقت دادی چی له روسانو سره د جهاد په وخت کی بوازی د پیسو او وسلو د راټولولو لپاره د جهاد او مبارزی په شعارونو د دوی ستونی وچ شویدی او هر کال یی د ولس او نړیوالو د دوکی او غولولو لپاره د جدی شیږمه غندله ترڅو په دی پلمه ډیری پیسی ، وسلی او امتیاز ونه ترلاسه کړی که داسی نه وای نو نن ولی د هماغو وینو څښونکو او د لسگونوزره افغانانو د قاتلینو په غیږ کی پراته دی او د هغوی سیوری ته یی پناه وروړی ده ، د وخت تیریدلو او د شرایطو بدلیدلو وښوده چی دا دواړه پروفیسوران او استادان نه د ملت غم لری او نه د دین او اسلام ، نه ورسره د هیواد او د ملی ارزښتونو فکر شته او نه د ولس او قام د نیکمرغی که داسی وای نو د یو افغان په توگه به یی له دی دینی او ملی ارزښتونو څخه دفاع کړی وای او نه به یی په افغانستان باندی د امریکایانو کروز توغندی ویشتل تائیدول ، او نه به یی له ولس سره جگړه کوله ، نه به یی پخوا روسانو ته برائت ورکاوه او نه به یی اوس د هغوی د گواښونو په وړاندی چوپ پاتی کیدل چی دا چپوالی په خپله د رضا او خوښی په معنی دی .

د تیری جگړی له مسئولیت او بار څخه روسانوته برائت ورکول پخپله په دی معنی ده چی دا جناب !!! د جگړو ټول باراو ملامتی په افغانانو وراچوی او افغانان په دی گرم بولی چی ولی یی په افغانستان باندی د روسانو د برغل په وړاندی پاڅون کاوه او له دوی سره یی جهاد پیل کاوه .

داهم څرگنده خبره ده چی روسانو ،امریکایانو او نوری کفری نړی ته ددی پروفیسورانو او د دوی د اندیوالانو چاپلوسی اوتملق بوازی او بوازی د مادیاتو او د دنیا د چوکی او دنیوی عزت د ترلاسه کولو لپاره ده آیا دوی په دی نه پوهیږی چی عزت او ذلت د یو خدای (ج) په واک کی دی او بوازی د خپل دین لاروبانو ، په ملی غرور عاشقانو د دین او ولس د ډیوی پتنگانو ته یی په برخه کوی زمونږ مسلمان ملت ټول په دی باوردی چی د هر شا شجاع ، ببرک او د هغوی د لاروبانو په مخ به تور داغ او د دنیا او آخرت ذلت وی . ان شاء الله .

معلومات

د امریکایی گلامور نومی مجلی په حواله ویل شوی چی د متحده ایالاتو جمهوری ریاست ته نوی کاندید «بوش» چی د پخوانی ولس مشر جورج بوش زوی دی . تراوسه پوری په دی باوردی چی دطالبانو تحریک (اسلامی امارت) د امریکی د متحده ایالاتو د ملی موسیقی(روک اندرول) یو ټیم دی .

بوش دغه نظر هغه وخت څرگند کړ چی د نوموړی مجلی خبریال له ده څخه د طالبانو په اړه د معلوماتو غوښتنه وکړه . د گلامور نومی مجلی خبریال د خپل وظیفوی مسئولیت له مخی دنده لری چی له خپلو راتلونکو چارواکو څخه د دوی د معلوماتو او علمی سویی د معلومولو په اړه پوښتنی وکړی .

له ښاغلی بوش نه د سوال ځواب په مهال د طالبانو په اړه هم وپوښتل شول خو ده څو ځله خبره وزدویله او ځان یی وړاندی تیرکړ.

مگر خبریال د خپل ژورنالستیکی مهارت له مخی وړاندی تکرار وکړ او داسی ښکاریده چی ورته په عین پوښتنی کی ځواب هم ورښیی .

مگر د بوش بیا هم خبره سرته نه تله او د خپلو معلوماتو له مخی یی وویل : طالبان راښیی ؟! لکه چی دا نوم می څو ځلی مخکی هم ترغوږ شوی .

نتیجه یی ورته کړه .

ښاغلی بوش د امریکی د تکزاس ایالت اوسنی گورنر او د امریکی د ولس مشری لپاره راتلونکی کاندید نه بوازی داچی د طالبانو په اړه یی معلومات دا ډول دقیق دی !!! بلکی د نړی د تر ټولو لویو هیوادونو د ولس مشرانو د نومونو په باب یی معلومات لا تردی هم زیات دی کله چی له ده نه د نړی د لسو جمهورو رئیسانو د نومونو په هکله وپوښتل شول ، هغه خوارکی نوموړی سره که بخت یاری وکړی او د نوی عیسوی کال په سر کی یی د امریکی د ولس مشری تخت او تاج په برخه شی نو هرو مرو به یی له طالبانو (اسلامی امارت) سره تعامل هم د خپلو معلوماتو له مخی وی ، خو په هغه صورت کی چی دی او خپل معلومات سره پاتی شی او که چیری د خپلو اندیوالانو یعنی صهونیستانو او یاهم د هالیود د چارواکو له لوری ورته د طالبانو په باب لاندی او د نویو معلو ماتو له مخی به له امریکی څخه د کروز توغندیو په وسیله په افغانستان کی له طالبانو څخه د ښځو د حقوقو په ورترلاسه کولوزور واچوی .

جمهور رئیس بل کلنټن د سپینی ماڼی په مزو چرچو کی د ښځو د حقوقو په نامه خپله د معاشقی تنده په مونیکا لوینسکی باندی ماته کړه خو چی د رسوایی خبر یی تر سر ورغی نو بیایی ښځی او نر او د دوی حقوق ټول هیر کړل او د خپلی رسوایی غږ یی له سودان او افغانستان څخه واخیست .

د بوش اوالگور سرونو ته دی خیر وی چی دوی به هم افغانستان ته د بل کلنټن له عینکو څخه گوری او که به یی د خپلومعلوماتو او نړی لیدله مخی ټول پام او فکر د ښځو د حقوقو په نامه د «راوا» د بدلمنو د محاسنو لوری ته اوښتی وی . ددی خبری سپیناوی به هله وشی ، چی د نیویارک د ښځو په اوسنی نړیوال سیمینار کی د راوا استازی ترکومه حده د خپل کردار تظاهر ښه وښودلی شی .

چې نه مري لا به واوري

عبدالرحیم «ثاقب»

ok - ok- طالبان ، هغه د امریکی د موسیقی تر ټولو لوی ټیم (روک اندرول) .

خبریال چی هرڅومره وړاندی زیار ویوست چی د ښاغلی بوش دغه ناسم معلومات ورسم کړی خو څه بوازی - د یکی یوه نوم وریادوه .

دا لاڅه کوی چی د هغه ښاغلی په نزد د کوسوا اصلی نوم هم کوسوواریان ښه بلل شوی . په هر صورت اصلی خبره مو د ښاغلی بوش په معلوماتو کوله . له داسی معلومات ورکړل شی چی گواکی دوی د ترویستانو ساتونکی ، د ښځو په حقوقو تیری کوونکی او د نشه یی توکو خوروونکی دی ، نو بیا خو به سمدلاسه خپل گوډ او ړانده معلومات تر گوندی

۵ د افغانستان په هکله د امریکی غلط سیاسی دریځ

عبدالقیوم کوچی له امریکا څخه

که چیری دامریکی چارواکی د افغانستان د اسلامی امارت ستری کارنامی لکه چی مخکی په لنډیز سره څرگندی شوی په نظر کی ونیسی او خپل سیاسی دریځ د افغانستان په برخه کی بدل کړی او د واقعیتونو پر بنسټ نوی دریځونه غوره کړی هم به په افغانستان کی بشپړه سوله رامنځ ته شی او هم به د امریکی سیاسی او اقتصادی گټی په افغانستان او سیمی کی خوندی وساتلی شی . که چیری امریکائی چارواکی د اسلامی امارت له استازو سره د رښتینولی په چاپیریال کی ناسته ولاړه وکړی او پر ټولو ستونزو په مخامخ ډول خبری وکړی د ډیرو ستونزو د اوارولو د پاره به لاری چاری پیدا شی .

د افغانستان په اقتصادی او تخنیکی بیا رغونه کی امریکائی چارواکی کولای شی چی د افغانی هغو ځوانانو او پیغلو د استعدادونواو علمی ارزښتونو څخه کار واخلی چی نن د امریکی په ډیرو علمی مؤسساتو کی په بری سره کار کوی د جهاد او له هغه راوروسته د جگړو د کلونو څخه را په دی خوا لږ تر لږه دوه سوه زره افغانان د امریکی په بیلابیلو ایالتونو کی د کډوالی ژوند تیروی . ددغو افغانانو څخه اویا فیصده هلکان او نجونی دی چی پنځلس یا شل کاله یی په امریکی کی ژوند کړی دی او د خپل ژوند په موده کی کالجونو او پوهنتونو گانو ته تللی او لوړی زده کړی یی ترلاسه کړی دی . د افغانانو دغه نوی نسل اوس د امریکی په ډیرو علمی او تولیدی کارخانو کی په کار او زیار بوخت دی او د امریکایانو په سویی سره بی ځانونه رسولی دی . که چیری امریکائی چارواکی د افغانستان په برخه کی واقعیتونه په نظر کی ونیسی او د اسلامی امارت سره د تفاهم ، روغی جوړی او همکاری لاسونه ورکړی ، دوی (امریکایان) کولای شی چی افغانی ماهران او متخصصین چی اوس په امریکی کی ژوند او کار کوی د افغانستان د بیارغونی د پاره وهڅوی او پکار ئی واچوی .

اسلامی امارت ددی برخای چی پردی ماهران استخدام کړی د خپلی خاوری اصلی زامن او لوڼی په د وطن د سمسورولو او د نوی ژوند د جوړولو د پاره راوبولی او گټی به ځنی واخلی .

د امریکی د غلطو پالیسیو له کبله په منځنی ختیځ او هم په ډیرو نورو اسلامی هیوادونو کی ددغو هیوادونو ولسونه د امریکی په مقابل کی د تریگنی او دښمنی احساسات ښکاروی . په همدغو شپو ورځو کی د لبنان خلک د امریکی د دریځ پرضد چی په منځنی ختیځ کی د مسلمانانو پر خلاف او د اسرائیلو د دولت په ملاتړ لوبول کیږی را پاریدلی او څو ځو ځلی یی د خپلو غونډو او مظاهراتو په ترڅ کی د امریکی بیرغونه سوځولی دی .

د افغانستان مسلمان ولس او د افغانستان اسلامی امارت د امریکی له دولت او خلکو سره دښمنی نلری . د افغانستان خلک هغه مرستی چی امریکایانو د روسانو د برغل په کلونو کی د افغانستان د جهاد سره کړی نه هیروگکلکی د هغو ستاینه کوی . امریکائی چارواکو ته په کار ده چی د افغانستان د ولس او د افغانستان د اسلامی امارت د ښو احساساتو هرکلی وکړی او پری نږدی چی دا دوستی او دا نننی روحیه په دښمنی بدله شی . امریکائی واکمنان او امریکائی چارواکی باید د افغانستان د ولس د غوڅ اکثریت د هیلو او غوښتنو درناوی وکړی . د افغانستان ولس اوس خپله لاره د اسلامی امارت تر مشری لاندی ټاکلی ده او هیله لری چی خپل راتلونکی ژوند په همدی طریقی سره جوړ او سنبال کړی .

امریکائی چارواکی باید ددغه واقعیت په تشخیص سره خپلی سیاسی ، اقتصادی او فرهنگی اړیکی د افغانستان د اسلامی امارت سره ټینگی کړی . امریکائی چارواکو ته په کار نده چی د خپلی خوښی سیاسی نظامونه پر نورو ولسونو وتپی او یا د هغو په کورنیو چارو کی د هغوی د فرهنگ په خلاف لاس وهنی وکړی . امریکائی واکداران باید د تاریخ څخه زده کړه وکړی . هغه غلطی پالیسی چی امریکایانو د ایران د پخوانی پاچا د ملاتړ د پاره د نیمی پیړی په ترڅ کی د ایران سره لوبولی دی څومره یی د امریکی سیاسی او ستراتیژیکی گټو ته د منځنی ختیځ په سیمه کی تاوان رسولی دی . دا یو ویشت کاله کیږی چی د امریکی حیثیت او مقام په ایران او هم په سیمی کی څومره را ټیټ او ذلیل شوی دی . امریکائی چارواکی چی څومره هلی ځلی کوی چی د خپلو پخوانیو غلطو لارو چارو او دریځونو جبیره وکړی او د ایران د اوسنی مشرتابه او واکدارانو سره خپلی اړیکی ټینگی کړی او د دوو دولتونو ترمنځ د باور او اطمینان چاپیریال برابر کړی خپل هدف ته نشی رسیدلی . دا ځکه چی امریکایانو د ایران د ولس د غوښتنو او هیلو سپکاوی کړی ؤ او اوس چی پر واقعیتونو پوه شوی دی څوک اعتبار پری نکوی .

امریکایان باید د افغانستان د روان تاریخ د واقعیتونو پیژندگلوی او تشخیص وکړی او خپل نړیوال رسالت د یوه ستر هیواد په توگه ترسره کړی .

امریکائی واکداران که چیری ژر تر ژره د افغانستان اسلامی امارت په رسمیت وپیژنی او خپلی هر اړخیزی اړیکی ورسره ټینگی کړی هم به د افغانستان د ولس خوشحالی او ملاتړ ترلاسه کړی او هم به په سیمی کی د سولی او روغی جوړی چاپیریال برابر شی .

ومن الله التوفیق

ای غلام ابن غلام ابن غلام !!

بقلم «مجاهد»

افغانها با جهاد خویش در آزادی آسیای میانه سهم اساسی داشتند بیش از هفتاد سال دور اسارت آسیای میانه به قیمت خون یك و نیم ملیون افغان بسر آمد (کشورهای مستقل مشترك المنافع) این امکان را یافتند تا با روسها بر سر یك میز با موقف مساوی بنشینند و به خواست های روسها آنچه که خلاف مصلحت های ملی شان بود (نه) بگویند ولی شکران و سپاس این نعمت از افغانها را با چنین جملات ادا می کنند ! ما برضد شما بار دیگر روسها را به منطقه می آوریم تا از مرزهای ما در برابر شما دفاع کنند !! از حرف حرف این سخن بوی غلامی به مشام میرسد .

رجز خوانی های اخیر سردمداران کریملین و تهدید های آنان برای حمله، احتمالی بر افغانستان را رسانه های گروهی در سطح بین المللی از زوایای مختلف مورد توجه و تحلیل و ارزیابی قرار دادند و عواقب چنین اقدامی را در ابعاد سیاسی و نظامی در سطح جهان و منطقه به بحث کشیدند .

گاهی چنین عکس العمل های شتاب آلود پرده ازراز های نهفته بر میدارد و اسراری که تاکنون در نهان ماندن آن تاکید بود بر ملا می گردد . این تهدید روسها این حقیقت را آشکار ساخت که آنها در چیچنیا به درد سری بزرگ مواجه اند .

پوتین که بقدرت رسیدن خودرا مدیون سیاست جنگ طلبانه، خویش در چیچنیاست به ملت وعده داده بود که جنگ چیچن را در چند هفته و نهایت چند ماه به پایان خواهد آورد اما درعمل چنین نشد و جنگ چیچن میراث قرن گذشته بر دوش اقتصاد ناتوان و بیمار روسیه تا امروز باقی ماند وپایانی هم برای آن متصور نیست .

مجاهدین چیچنیا با تاکتیك های معمول در جنگ های چریکی که ارتش سرخ را در افغانستان به شکست مواجه ساخت نیروهای روسی را به ستوه آورده اند . روسها در این جنگ خودرا با افغانستان دیگری مواجه می بینند که هر حمله ئی از جانب چیچنی ها علیه سربازان روسی یاد آور جنگ افغانستان است و این سوال را در ذهن روسها مطرح می سازد که این تاکتیك ها صرفاً شباهت های ظاهری میان دو جنگ چریکی در دو کشوری از نظر ساختمان طبیعی مشابه هم است و یا اینکه چیچنی ها در افغانستان تعلیم می بینند ؟

افغانها هم از نظر اقتصادی و هم از نظر دوری از قفقاز در حدی نیستند که بتوانند کمك موثری به چیچن ها داشته باشد و این حقیقت ازنظر روسیه به هیچصورت پوشیده و پنهان نیست اما روسها می دانند که کشورهای دیگری که با داعیه چیچن ها همدردی دارند در جهان و بخصوص در میان کشورهای اسلامی کم نیستند وتهدید افغانستان بوسیله روسها در حقیقت تهدید غیر مستقیم چنین کشورهاست روسها آنقدر هم نابخرد نیستند که دست آورد حمله، راکتی امریکا بر افغانستان از نظر آنان پنهان باشد ولی تأثیرات نگران کننده، و باز دارنده، چنین اقدام در میان کشورهای دیگر مطمع نظر آنهاست .

نکته، دیگر در این رابطه رقابتی است که میان روسیه و امریکا بر سر آسیای میانه جریان دارد که یکی در صدد حفظ نفوذ گذشته و دیگری در تلاش تحکیم جای پای خویش درین منطقه است . روسها می خواهند به کشورهای این منطقه بگویند که روسیه هنوز هم این قدرت را دارد تا از آسیای میانه در برابر تهاجم بنیاد گرای اسلامی ازجنوب دفاع نمایند .

روسها می دانند که نفوذ روز افزون نهضت اسلامی در آسیای میانه بیش از همه خواب خوش اسلام کریموف رئیس جمهور ازبکستان را آشفته کرده است وی که تایکی دو سال قبل مدعی استقلال بود و آهنگ بی نیازی از ماسکو ساز می کرد چند روز قبل میزبان ولادیمیر پوتین در تاشکند بود . کریموف گفت که ازبکستان قادر است تا از مرزها ی خود دفاع کند و در صورت ضرورت ازکشورهای دیگر نیز کمك خواهد خواست که البته منظور وی از کشورهای دیگر روسیه بود .

درین رابطه بی اختیار سخن علامه اقبال (رح) در رابطه با غلامی و تأثیرات روانی آن را بیاد می آوریم که می گوید : (از غلامی روح میرد در بدن) و در اندیشه این (غلام ابن غلام ابن غلام) (حریت) (حرام) است !

افغانها با جهاد خویش در آزادی آسیای میانه سهم اساسی داشتند بیش از هفتاد سال دور اسارت آسیای میانه به قیمت خون یك و نیم ملیون افغان بسر آمد (کشورهای مستقل مشترك المنافع) این امکان را یافتند تا با روسها بر سر یك میز با موقف مساوی بنشینند و به خواست های روسها آنچه که خلاف مصلحت های ملی شان بود (نه) بگویند ولی شکران و سپاس این نعمت از افغانها را با چنین جملات ادا می کنند ! ما برضد شما بار دیگر روسها را به منطقه می آوریم تا از مرزهای ما در برابر شما دفاع کنند !! از حرف حرف این سخن بوی غلامی به مشام میرسد .

واقعیت اینست که ازبکستان را هیچ خطری از خارج تهدید نمی کند بلکه اینرژیم ضد مردمی کریموف است که بعلت سیاست های سرکوبگرانه خویش به مخالفت مردمی در داخل مواجه می باشد . این حقیقت بارها به تجربه به اثبات رسیده که فقط رژیم های نیازمند کمك نظامی از خارج برای دفاع از خویش اند که فاقد توان جلب حمایت مردمی از داخل باشند . آنها برای سرکوب ملت خود از نیروی خارجی مدد می طلبند .

روزگاری کمونیست های افغانی نیز برای دفاع از رژیم ضد مردمی خود ارتش سرخ را به افغانستان آوردند ولی تجربه، شکست روسها نشان داد که تا وقتیکه یك نظام خود قادر بدفاع از خود نباشد هیچ قدرت و نیروی خارجی قادر به نجات چنین نظامی نخواهد بود .

در همین رابطه آنچه که بیش از همه موجب تعجب و حیرت شد سخن یکی از سخنگویان رژیم سرنگون شده، (استاد) بود ، وی گفت که اگر روسیه به افغانستان حمله کند مردم افغانستان از طالبان حمایت نخواهد کرد !!

این سخن راسخنگوی رژیمی بر زبان می آورد که خودرا (دولت اسلامی افغانستان) و وارث راه مجاهدین افغان می خواند . **این موقف رژیم سرنگون شده رباني در حقیقت دعوت از روسها براي حمله به افغانستان است .**

براي رژيم رباني شايد این نکته اهمیتي نداشته باشد که تاریخ افغانستان در برابر چنین موقف ها تاچه حد قضاوتي سختگیرانه دارد .

دو دهه پس از تهاجم ارتش سرخ بر افغانستان هنوز هم پرچمی ها تلاش مایوسانه دارند تا ثابت سازند که تنها آنها درتهاجم ارتش سرخ به افغانستان مسئول نبوده اند ، بلکه قبل ازآنان ترکی نیز بارها از قوای روس برای حمله بر افغانستان دعوت کرده بود . وطنفروشان چون ببرك و دارو دسته اش داغ چنین ننگی را بر جبین دارند و استادان از گذشته، ننگین اسلاف خویش درس عبرت نمی گیرند .

فردا پرچمی های سیاه روی برای توجیه خیانت تاریخی خویش خواهند گفت که اگر دعوت از نیروهای خارجی برای حمله بر افغانستان واقعاً (خیانت) بوده باشد رژیم ربانی هم از امریکا و هم از روسیه برای حمله بر افغانستان دعوت کرد .

سخنگوی رژیم ربانی ظاهراً به این بخش از اعلامیه، وزارت امور خارجه، امارت اسلامی جواب میداد که در آن از مجاهدین ، آنهایی که واقعاً در برابر تجاوز روسها در دوران تجاوز شان به افغانستان قربانی داده اند خواسته شده بود تا با امارت اسلامی دست وحدت بدهند . طبیعی است که ملت مجاهد افغانستان در صورت هرنوع تجاوز روسیه مانند گذشته مقاومت خواهند کرد والبته دوستان روسها در افغانستان درین اعلامیه مخاطب نبودند ، زیرا از آنها انتظاری جز این نیست که براه ببرك کارمل وفادار بمانند .

بصراحت میتوان گفت که پس از خروج روسها از افغانستان هیچ جناحي به اندازه، رژیم استاد رباني تا این حد صادقانه به روسها خدمت نکرد . این رژیم نه تنها روسیه را از تجاوز به افغانستان بري الذمه دانست ، بلکه با اعمال و روش هاي که فقط در رژیم هاي کمونیستي درافغانستان سابقه داشت کمونیست ها را نیز از همه جنایات و خیانت ها علیه ملت تبرئه نمود

آن رژیم به هیچصورت رژیم مجاهدین نبود و خواست های مجاهدین و آرمانهای شهدای جهاد درآن تحقق نیافت بلکه آن رژیم به این علت بر سر اقتدار آمد تا جهاد را بدنام و مجاهدین واقعی را بی اعتبار سازد .

در اینجا هدف این نیست که با کوبیدن رژیم ربانی یکسره از طالبان حمایت شود و این انتظار نیز در میان نبود که مخالفین امارت اسلامی در برابر روسها و تهدید آنان جانب امارت اسلامی را بگیرند ولی ملت و مجاهدین این انتظار را نداشتند مخالفین که خودرا مجاهدین می خوانند از حمله روسها به افغانستان حمایت کنند .

متجاوز از دو دهه از پیروزي انقلاب در ایران میگذرد ولي شعار مرگ بر امریکا هنوز بر سر زبان مردم ورهبران این کشور است **ولي در افغانستان** . روسها **اینمه جنایت کردند شعار مرگ بر روسیه چنین به آساني به فراموشي سپرده مي شود و آنهمه توسط چه کساني ؟ کساني که خود را (مجاهد) مي خواندند و (وارثبرحق خون شهدا) مي دانند ولي اعمال آنان جز (ننگ دین، ننگ وطن مصداق دیگر ندارد !!**

این همه مؤسسات این همه ...

در حال فعالیت می باشد که در نهایت امر عواقب فعالیت های مستقلانه و خود سرانه همچو موسسات در روند سیاست داخلی کشور به هر عنوانیکه باشد جبران نا پذیر خواهد بود .

به هر صورت ! خبرنگار ما در زمینه چگونگی فعالیت های این موسسات گزارشی را ترتیب داده است که توجه شما عزیزان را به مطالعه آن فرا میخوانیم :

امروز کلیه موسسات خیریه بین المللی و غیر حکومتی که در بخش افغانستان فعالیت دارند در پهلوی اینکه تسهیلات و امکانات خوب آموزشی ، بهداشت ، صحت ، زراعت ، ساختمان و آبرسانی و ... را برای مردم افغانستان فراهم نموده اند ، روبهمرفته یك سلسله مشکلات و نا بسامانی های بنیادی را نیز در قبال این تسهیلات داشته اند که در نهایت امر این مشکلات متوجه مردم ما بوده است : هکذا در شرایط کنونی که ۹۰٪ خاك کشور تحت امنیت و آرامش کلی قرار داشته و هیچ نوع بهانه دیپلوماسی هم مطرح نیست ، پس چه لازم افتیده که مرکزیت اصلی و انتخابی این دفاتر در دونقطه بی جهت تمرکز یافته است اولاً در اسلام آباد و ثانیاً در پشاور پاکستان ؟

آنها باید بدانند که مصارف گزاف این دفاتر در اسلام آباد و پشاور فقط از سر جمع بودجه اختصاص داده شده مردم بیچاره افغانستان صورت میگیرد نه از کدام حساب انکشافی بانکی دیگر !!!

در آغاز گزارش ارقام مجموعی موسسات غیر حکومتی را از دفتر موسسات غیر حکومتی وزارت پلان مطالبه نمودم ، محترم انجنیر زلمی مسوول دفتر مزبور : هم اکنون در سطح کشور ۳۰۷ NGO (موسسه غیر حکومتی) به تفکیك ٦٥ موسسه بین المللی و ۲٤۲ موسسه داخلی فعالیت دارد .

– گفته میتوانید که بودجه این موسسات در سال ۲۰۰۰ میلادی مجموعاً چه مقدار مطالبه شده ؟

– متأسفانه باید گفت که این موسسات از صورت مقدار بودجه و نحوه فعالیت خویش وزارت پلان را در جریان قرار نمی دهند .

– تعامل رسمی شما در زمینه چگونه است ؟

– به اساس فقره دوم ماده هشتم NGO ها با وزارت پلان ، موسسات غیر حکومتی مکلف اند تا از صورت مقدار بودجه خویش عند الموقع به وزارت پلان گزارش بدهند .

– از صورت بودجه سالانه کمیته صلیب سرخ چه میدانید ؟

– بازهم با تأسف باید بگویم که روابط کمیته صلیب سرخ با وزارت پلان بسیار ضعیف بوده ، ضمناً از صورت بودجه آن کمیسته نه در گذشته اطلاعاتی داشتیم و نه فعلاً چیزی میدانیم .

محترم انجنیر محمد بهلول مسئول موسسات ملل متحد وزارت پلان در رابطه به فعالیت های آن سازمان در امور افغانستان چنین روشنی انداخت :

فعلاً ملل متحد در ۹ بخش افغانستان را به شکل غیر مستقیم از طریق موسسات غیر حکومتی مساعدت میکند :

- WFP (پروگرام غذائی جهان)
- WHO (پروگرام صحی جهان)
- UNDP (پروگرام انکشافی ملل متحد)
- UNICEF (صندوق اطفال)
- UNOCHA (دفاتر ماین پاکی ملل)
- UNDCP (مبارزه علیه مواد مخدر)
- UNHER (کمیشنری عالی ملل متحد در امور مهاجرین)
- UNESCO (سازمان ملل برای تعلیم و تربیه)
- HABITAT (مرکز ملل متحد برای اسکان بشر).

وی اضافه کرد : زمانیکه ملل متحد افغانستان را برسمیت میشناخت کمك های آن سازمان به افغانستان از طریق ادارات دولتی صورت میگرفت .

وی نقش ادارات امارتی را در رابطه به طرح برنامه ریزی این کمك ها چنین روشن ساخت :

– با تأسف باید گفت که امروز در طرح و پلان ریزی پروگرام های ملل متحد و موسسات غیر حکومتی اصلاً ادارات امارتی بشمول وزارت پلان بطور مستقیم شامل نیست ، هکذا نیازمندی های بنیادی و اولیه جامعه درین برنامه ها در نظر گرفته نمیشود . مجموع بودجه مطالبه شده، ملل متحد را طی سه سال اخیر (۹۸- ۹۹- ۲۰۰۰) در امور افغانستان گفته میتوانید ؟

– مجموع بودجه مطالبه شده ملل متحد طی سه سال اخیر به منظور مساعدت به افغانستان (٥٦٥) ملیون دالر به تفکیك ۱٥۷ ملیون برای سال ۱۹۹۸ ، ۱۸۸ ملیون برای سال ۱۹۹۹ و ۲۲۰ ملیون دالر برای سال ۲۰۰۰ میلادی می باشد .

از محترم مولوی محمد جواز مسئول اداره ملل متحد وزارت امورخارجه پرسیدم : از تعلقات کمیتهء بین المللی صلیب سرخ با ادارات امارتی بویژه وزارت امور خارجه چی میگوئید ؟ وی در جواب گفت : ارتباطات کمیته صلیب سرخ فقط با اداره سره میاشت تأمین می باشد و بس ، بناءً در مورد چیزی گفته نمیتوانم .

سپس راه اداره سره میاشت را در پیش گرفتم و از محترم ملا محمد یونس آغا معاون اول سره میاشت پرسیدم : آیا از بودجه سالانه کمیته صلیب سرخ در امور افغانستان آگاهی دارید ! وی با اظهار تأسف جواب داد : کمیته صلیب سرخ تا حال برای ما در ارتباط به بودجه خویش چیزی نگفته و ماهم درین مورد آگاهی نداریم ؛ فلهذا در زمینه چیزی گفته نمیتوانیم .

وقتی از محترم مولوی معاذ الله مسئول روابط اقتصادی و بین المللی وزارت امور خارجه پرسیدم که از نظر شما کارمندان خارجی موسسات غیر حکومتی در افغانستان تا چه اندازه متخصص و فنی بوده ؛ هکذا نقش کاری آنان در قبال پروژه های بنیادی کشور چه مقدار تعین کننده می باشد وی در زمینه اظهار داشت :

تحقیقاتیکه ما در مورد انجام داده ایم بیانگر این مطلب است که اکثریت این افراد غیر مسلکی بوده و در برنامه های کاری از خود کدام تخصصی ندارند ، و همین افغانها هستند که آنان را در راستای فعالیت های وظیفوی شان کمك مینمایند .

سرانجام سری بریاست ترافیك کابل زدم ، خواستم تا بدانم چه مقدار وسایط ترانسپورتی در سطح کشور در خدمت این موسسات قرار دارد . از محترم مولوی اسدالله «نصری» آمر جواز سیر ریاست ترافیك کابل پرسیدم ممکن است آمار وسایط ترانسپورتی موسسات غیر حکومتی را به شمول ملل متحد در کشور احصائیه بدهید ؟

وی بلا درنگ گفت : بلی ! فعلاً ۷٥٥۰ واسطه ترانسپورتی به تفکیك ۳٥۷٤ واسطه M نمبر پلیت (مربوط موسسات غیر حکومتی) و۳۹۷٦ واسطه UN نمبر پلیت (مربوط ملل متحد) در کشور عملاً فعالیت دارد .

اگر همین وسایط را ما بالای ۳۰۷ موسسه تقسیم کنیم برای هر موسسه ۲٤ موتر سهم میرسد و اگر قیمت هر موتر را ٥۰۰۰ دالر محاسبه کنیم ، ارزش مجموعی این وسایط بیشتر از ۳۷ ملیون دالر تخمین میگردد .

و اگر این احصائیه گیری فرضی را وسعت داده و سالانه محاسبه نمائیم که ۲۰ ملیون دالر معاش کارمندان + ۱۲ ملیون قرطاسیه + ۲٥ ملیون کمپیوتر و تخنیك آن + ۱۰ ملیون کرایه منازل + ۲۰ ملیون سفریه کارمندان + ۳۰ ملیون موبل و فرنیچر + ۱۰ ملیون مصارف تیلفون ، فکس و برق + ۱٥ ملیون مصارف روغنیات و تخنیك وسایط ترانسپورتی + ٥ ملیون بیمه صحی کارمندان + ... تخمین گردد فکر میشود که در اخیر هر سال ملل متحد + موسسات خارجی غیر حکومتی مشترکاً شاید یك مقدار پول کافی نیز از بودجه امارت اسلامی افغانستان قرضدار شوند ؛ بناً محاسبه فرضی بالا نشاندهنده این حقیقت می باشد که اکثریت بودجه سالانه ملل متحد و موسسات غیر حکومتی دوباره بالای خود ادارات و کارمندان آنها بمصرف میرسد نه بالای مردم افغانستان و نه از برای باز سازی کشور .

به هر صورت ! مشکل اساسی درین جاست که تا حال از جانب امارت اسلامی افغانستان باین ادارات برخورد قاطع صورت نگرفته است . پس چه بهتر خواهد بود که بعد از این طرح و برنامه ریزی پروگرام های ملل متحد و سازمانهای به اصطلاح غیر حکومتی به مشوره و تفاهم ادارات امارتی صورت بگیرد تا باشد واقعاً حق به حقدار برسد .

«مهربان»

راغلی لیک

د شریعت اوونیزې اداری ته !

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

څښتن تعالی مو په خپلو ټولوشرعی مقاصدو کی بریالی لره .

عزتمنو !

زه د روان هجری قمری کال د صفر المظفر د میاشتی په ۲٤ نېټه د خپل یوه ضروری مشکل د حل لپاره د اسلامی امارت د چارو د اداری مقام ته عارض شوم .

سره له دی چی ما هلته ډیرو لوړ رتبه چاروا کو سره پیژندګلوی هم لرله خو بیرته بیا هم په ډیره سختی سره د مقام تر انتظار خانی پوری ور ورسیدم . هلته له یو څه وروسته پدی وتوانیدم چی خپله عرض پاڼه محترم مسئول ته د موظف شخص په لاس ورولیږم .

له یو څه وروسته می عرض پاڼه د مؤظف شخص ، (پیره دار) لخوا بیرته ترلاسه کړه چی په ترلاسه کیدو ئی ډیر خوښ خو په لوستلو یی ډیر مایوس شوم ، ځکه چی د امر ورکوونکی له خوا ، نه مربوطه مرجع واضحه شوی وه او نه احکام د عرض مطابق لیکل شوی ؤ .

زه له خپل ځان سره په دی سوچ کی شوم چی زما عرض پاڼه چی زیات معرفت هم لرم او خپله هم د امارت په مربوطو منسوبینو کی حسابیږم په دی توګه را احکام او ځوابیږی او هغه هم د یوی داسی اداری لخوا چی هغه په بشپړه توګه د تصمیم وروستی مرجع ده نو د نورو بیوزلو ، یتیمانو ، کونډو او مظلومو عارضینو به څه حال وی .

له دی یوی دنیا سوچونو سره می د خپل کار لاره ونیوله او د دی لپاره چی شریعت اوونیزه د مظلوم ملت د ټولوشرعی ارمانونو او غوښتنو یوازینی خپرونکی مرجع ده دادی تاسوته می دغه لیک له عرض پاڼی سره یوځای دروليږه هیله ده چی تاسو به یی په نشرولو سره ما له مایوسی نه خلاص او خپل مسئولیت به ترسره کړی .

په ډیر درنښت

عبدالله له خیرخانی مینی څخه

قدرمنه وروره عبدالله جانه !

زمونږ نیکی هیلی او سلامونه هم ومنی دادی ستاسی لیک مو ستاسی له غوښتنی سره سم کټ مټ د شریعت اوونیزی په دی ګڼه کی نشر کړ نورستاسی د لیک په محتویاتو غور کول د اړوندو چاروا کو مسئولیت دی .

هیله ده چی محترم چاروا کی خپل وظیفوی مسئولیت ته متوجه او د ګرانو هیواد والو د ستونزو د لری کولو په لاره کی له هیڅ ډول هلو ځلو او پاملرنی څخه ډډه ونه کړی .

اداره

نطاق وزارت امور خارجه ...

هرچه بیشتر نزدافکارعامه در داخل و خارج ازکشور بر ملا میسازد ، بلکه منتج به افزایش فاصله ها میان ملت های مسلمان در منطقه نیز میگردد ، در حقیقت امر پافشاری به موضعگیریهای که قبلاً درمورد سرنوشت مردم افغانستان هیچگونه نفع قابل توجه ازان مرتب نبوده است .

دعوت استاد ربانی به مشابه نماینده مردم افغانستان در اجلاس سران ایکو در تهران را میتوان در همین زمینه از زمره موضعگیریهای دانست که اثرات آن پیوسته موقف و پرستیژ چنین گرد همائی ها را آسیب پذیر ساخته است ، زیرا استاد ربانی به نماینده گی از دولتی به این اجلاس دعوت شده که آن دولت در ماهیت امر اصلاً وجود ندارد در حالیکه امارت اسلامی افغانستان با حاکمیت مؤثر آن بر بیش ازنود فیصد قلمرو کشور به خوبی میتواند در چنین نشست ها نماینده گی از مردم افغانستان با حاکمیت مؤثر آن بر بیش مردم افغانستان نماید ،زیرا همین اکنون امارت اسلامی افغانستان با ظرفیت ها و امکانات بالقوه که دراختیار دارد به سهولت میتواند در امر تأمین و استحکام همکاری های اقتصادی دول عضو ایکو با اشتراك خویش در آن موثر واقع شود .

امارت اسلامی افغانستان دعوت از استاد ربانی را به منظور اشتراك در اجلاس سران ایکو در تهران یك اقدام کاملاً بیهوده تلقی مینماید ، زیرا استاد ربانی طی دوره ننگین زمامداری خود بر چند ناحیه محدود پایتخت کشور عملاً کمال بی کفایتی خویش را مبرهن ساخته که آن را نیز در درگیریهای خونین با رقبای خود کابل را به مخروبه مبدل ساخت ، کشور ما در دوران ریاست جمهوری قبلاً موصوف به مرکز متعدد قدرت طلبی مبدل گردیده بود و عملاً در استانه اضمحلال قرار گرفت و در نتیجه پشتیبانی دشمنان مردم افغانستان خود سبب کلیه آلام و ادامه جنگ در کشور گردیده است درین صورت نامبرده چگونه میتواند ازملت نماینده گی نماید که وی با وصف جنایات قبلی از حملات راکت های کروز ، وضع تحریم های اقتصادی و تهدید های مکرر دشمن شناخته شده مردم افغانستان یعنی روسیه بر قلمرو افغانستان را مورد پشتیبانی قرار داده است .

بنابر این هر نوع فیصله که در آن اجلاس درارابطه به افغانستان صورت میگیرد نه جنبه عملی داشته و نه مورد تائید ملت مجاهد افغانستان قرار دارد و اشتراك ربانی در اجلاس ایکو در تهران به معنی شرکت افغانستان دراین اجلاس نخواهد بود .

مونږ بوځل بیا په نړیواله ...

پایښت د دښمنانو تر جګړی پوری د جګړی د دوو لسیزو له زغملو وروسته په کندواله بدل شویدی او ټول اقتصادی بنسټ یی له خاورو سره یوځای خاوری شویدی . او په پای کی پداسی شرایطو کی چی افغانان له بل هر وخت څخه زیات د نړیوالو ټولنو بشری مرستو ته اړتیا لری بوځل بیا د دغه جګړه ځپلی او ویجاړ او له وچکالی او قحطی سره د مخامخ هیواد پرخلاف د نویو اقتصادی بندیزونو د لګولو په سر د نویو خبرو خبر اوریدل کیږی . که چیری روسان د افغانستان د ملت پرخلاف په هر راز دښمنی لاس پوری کوی کولای شو هغه د افغان مجاهد ملت په نسبت د هغوی د کینی د ښنی ښبانی په توګه تعبیر کړو د افغانستان په جهاد کی د هغوی ماتی روسیه د یو ابر قدرت له مقام څخه د لویدیځ د احسان منونکی او اړ هیواد باندی بدل کړ . خو داچی د امریکا متحده ایالاتو له داسی ملت سره د دښمنی ملاتړلی ده چی د روسانو پرخلاف د افغانستان د جهاد په دوران کی یی دغه ملت د آزادی د سنګر مدافعان بلل او ملاتړ یی ورسره کاوه ښیی چی څه ډول زیږ ځواکونه حاضر دی هغه اخلاقی او انسانی ارزښتونه چی پرون یی ځانونه په هغو ژمن بلل نن ورځ خپلی ګټی قربانی کوی .

د افغانستان پرخلاف د لګول شویو بندیزونو پلمه د تروریستی اډو شته والی بلل کیږی چی ګنی د افغانستان په خاوره کی شته او دا په داسی حال کی دی چی د افغانستان اسلامی امارت په وار وار اعلام کړیدی چی په افغانستان کی تروریستی اډه نشته هرڅوک چی په دی باب شک لری کولی شی زموږ هیواد ته سفر وکړی نړیوالی ټولنی له امریکا څخه د اسامه بن لادن د تروریست والی د تور ثبوت نه غواړی ، خو په افغانانو باندی د فشار په مقصد له دغه شان پلمو څخه د استفادی په وړاندی یا ملاتړ کوی او یا په چپتیا سره هغه تائیدوی .

نن ورځ روسیه د امریکا له متحده ایالاتو سره په یوه غږ شویده .

آیا همدغه روسان نه ؤ چی په افغانستان باندی د تیری په دوران کی یی یو نیم ملیونه تنه افغانان په وینو ولړل او شهیدان یی کړل او په ملیونونو تنه نور یی له خپل هیواد څخه مهاجرت ته اړ باسل .

آیا همدغه روسان ندی چی په چیچنیا کی هره ورځ په نوی جنایت لاس پوری کوی او په بی ساری وحشیتوب سره د یو مسلمان ملت د یو پناه کولو په لټه کی دی که چیری د روسانو دغه عملونه تروریزم او نسل وژنه نده نو تروریزم او نسل وژنه څه ډول تعریف کولی شو .

رښتینی تروروستان د روسیی واکمنان دی چی لاسونه یی د ملیونونو انسانانو په وینو لړلی دی خو د تروریزم د ملاتړ په پلمه اقتصادی بندیزونه پداسی هیواد باندی لګوی چی په خپله د روسانو د تروریزم قربانی دی او دغه ملت لا تراوسه پوری د روسیی د تیری له دوران څخه له رامنځته شویو مصیبتونو سره لاس او ګریوان دی . که چیری یو اسرائیلی په ټوپک سره په لسګونو مسلمانان شهیدان او یا ټپیان کوی تروریست نه بلل کیږی .

تروریست هغه صفت دی چی د امریکا متحده ایالات او روسیه او د هغوی پلویان یی په مسلمانانو باندی اطلاق کوی دوی په دغه اقدام سره په حقیقت کی په اسلام باندی برید کوی او غواړی نړیوالوته تلقین کړی چی ګنی اسلام د ترور او دښمنی دین دی .

موږ په وار وار اعلام کړیدی چی د هری هغی ستونزی په اړوند چی نړیواله ټولنه یی د افغانستان له خوا احساسوی خبری او تفاهم ته تیار یو ، خو د امریکا متحده ایالات او روسیه یوازی پلمه لټوی کله چی په نړیواله سطحه هم د هیښتونه د واکمنی غوښتونکو قدرتونو تر تسلط لاندی د ډله ییزو اطلاعاتو د وسایلو د ناسمو خبرونو او رپوټونو په وسیله ګډوډ شی د افغانستان ملت به د خپل روا حق د دفاع وس ونلری .

موږ بوځل بیا په نړیواله سطحه د افغانانو د مظلومیت چیغی پورته کوو او اسلامی هیوادونو او د ویښو ذهنیتونو نه په نویواله سطحه په دی نابرابر جدال کی قضاوت ته رابولو داسی جدال چی په هغه کی یو لوری په ټولو وسایلو او امکاناتو سره سمبال دی او په بل لوری کی یو داسی مظلوم ملت دی چی آن د نړیوالو غوږونو ته د خپلو چیغو د رسولو توان نه لری .

د افغانستان اوسنی اقلیمی حالت او په اقتصادی حالت باندی د هغه ناوړو اغیزو ته په پاملرنی سره که چیری هغه اقتصادی بندیزونه چی همدا اوس په افغانستان باندی نافذ دی لری نشی نړیوال به په افغانستان کی د یوه بشر انسانی تاتار شاهدان واوسی . داخو لا پریږده چی نوی بندیزونه ولګول شي .

موږ هیله لرو د امنیت شورا هغه شمیر غړی هیوادونه چی د افغانستان پرخلاف د امریکا د متحده ایالاتو او د روسیی د پلمو تر شا یی د هغوی اصلی هدفونه تشخیص کړیدی . له دوی سره به ملګری نشی او د افغانستان د خلکو پرخلاف د هغوی اقدامات به تائید نه کړی او له اسلامی هیوادونو څخه هم غوښتنه کوو چی له دی زیات په یی توپیری سره د افغانانو د کړاونو د زیاتوالی شاهدان ونه اوسی .

همه ما مکلفیت داریم ...

عبدالسلام «حقانی» معاون اداره امور درارابطه به شخصیت، کار و خدمات محترم مولوی محمد یعقوب «قانع» که به تأسی از فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین به حیث معین شاروالی کابل تقرر حاصل نموده اند صحبت کوتاه و مختصر نموده موصوف را به رؤسا و مامورین شاروالی معرفی نمود ، متعاقباً محترم قانع مکلفیت ومسوولیت آمر و مادون در برابر اجتماع ، مردم و نظام در روشنی ارشادات دین مبین اسلام توضیح نموده بر همکاری مشترك در پیشبرد امور تاکید بیشتر داشته گفت : همه ما مکلفیت دینی و ایمانی داریم که وظایف محوله خویش را به اخلاص و صداقت با در نظر داشت منافع علیای مردم بدون کوچکترین عذر و خیانت به وجه احسن و نیك اجرا نمائیم ، زیرا هریکی ما جواب ده آن در آخرت میباشیم .

موصوف اضافه کرده امید وارم که به مساعی مشترك مامورین شاروالی کابل در رفع مشکلات ونیازمندی های شهریان کابل ممد واقع گردیده و خدمات بیشتر و ارزنده را برای مردم کابل در عرصه های مختلف انجام دهیم .

سپس محترم ملا سعد الدین سعید شاروال کابل روی موضوع صحبت کوتاه نموده ضمن آنکه از خدمات محترم مولوی باقی الله معین سابقه شاروالی کابل به نیکویی یاد آوری نموده توقع به عمل آورد که به مساعی وهمکاری همه جانبه همه مامورین شاروالی کابل انشاء الله برهمه مشکلات غالب خواهیم آمد .

په پیښور کی ...

، او د جلوزو په کمپونو کی اوسیدونکو افغانی مهاجرینو پرون په افغانستان باندی د روسیی د احتمالی برغل په وړاندی د اعتراض په توګه پراخی مظاهری وکړی او د بهرنیو لاس وهنو د غندلو په ترڅ کی یی د افغانستان په حریم یادنی د بریدونو په باب د روسیی د سردمدارانو ګواښونه د افغانستان په کورنیو چارو کی د روسیی ښکاره لاس وهنه او تیری وباله او اعلام یی وکړ چی د افغانستان د خلکو د ملی نوامیسو او د ځمکنی بشپړتیا د دفاع په خاطر د روسانو او د هغوی د کورنیو نوکرانو

پرخلاف مقدس جهاد ته چمتو دی او په دی مقدسه لاره کی له هیڅ راز سربښندنی او ځان تیریدنی څخه ډډه نه کوی .

د پنجشیر - تخار ...

مسافرانو له ځورونی وروسته یی د هغوی مالونه او شتمنی لوټی کړی .

د عینی شاهدانو د څرګندونو له مخی دغو قوماندانانو د خلکو د مالونو او شتمنیو په لوټولو برسیره د نظار شورا یو شمیر قوماندانان هم بی وسلی کړل او یو شمیر نور یی بندیان کړل .

د نظار شورا سرمدارانو د خپلو قوماندانانو د خلاصون په خاطر د دغو قوماندانانو پرخلاف په پوځی عمل لاس پوری کړ چی د دواړو خواوو ترمنځ تراوسه پوری جګړه روانه ده .

د عینی شاهدانو د څرګندونو له مخی په دغو نښتو کی د ښکیلو اړخونو د یو تن قوماندان په ګډون اته تنه وژل شوی او یو شمیر نور یی ټپیان شویدی .

دغه مسأله په ډاګه ښیی چی د مخالفینو تر کنټرول لاندی محدودو سیمو کی بی نظمی او ګډوډی د خلکو د ځورونی او کړاوونو سبب شویدی او خلک د مخالفینو په سیمو کی په ډیری ویرګډاو ډار او د مال او سر په نه مصئونیت سره شپی سبا کوی .

دغه حقایق په ډاګه ښیی چی مخالفین له خلکو سره په بشپړ تجرید کی دی او خلک هم له هغو څخه کرکه او نفرت لری .

د هرات په ولایت کی ...

مرستی کوی او دادی د هرات په لرو بر کی (۲۰۳) مدرسی د دری زرو استادانو په درلودو سره د هغه ځای د ځوانانو په روزنه بوختی دی .

دا خبری د هرات د ښوونی او روزنی رئیس محترم محمد نعیم ګل «صدیقی» د شریعت اونیزی سره په یوه ځانګړی مرکه کی وکړی او زیاته یی کړه :

د هرات ولایت د ښوونی او روزنی مسئولین شپه او ورځ هڅه او هاند کوی ترڅو هغه بی ساری تاوانونه چی د تیرو جګړو په لړ کی په تعلیمی دګرونو راپریوتی دی ، تریوه حده جبران او په دی برخه کی ټولی نیمګړتیاوی له منځه یوسی - د یوی بلی پوښتنی په ځواب کی ده وویل چی زمونږ د آزموینو انتظام هم ښه په دقت جوړ شوی او د کلکی څارنی لاندی له زده کوونکو څخه آزموینه اخیستل کیږی همدارنګه د زده کوونکو د لا تشویق د پاره یو لړ سیالی ترسره کیږی او بیا بریالیو او ممتازو طالبانو ته څه سوغاتونه هم ورکول کیږی .

نوموړی زیاته کړه ددی د پاره چی طلاب د ورځنیو

پښتنو څخه خبراو په ذهنی ډګر کی لا ښه پرمختګ وکړی په مدرسو کی د عامو جلسو او کنفرانسونو انتظامات هم نیول شوی دی او ټول ومدرسو ته لار ښوونه شوی چی په هرو پنځلسو ورځو کی یوه داسی غونډه جوړه کړی چی سر بیره پر استادانو طلاب هم د مقالو او بیانیو په برخه کی ورسره شریک وی او په دی ډول وکولای شو خپل ځوان طالب العلمان د ټولنی د ښی اداری او سمبالښت د پاره په ښه ډول وروزی او په یقینی ډول دا تګلاره په دی برخه کی ډیره بریالی او ښی نتیجی ورکوی .

لبنان به جنوب آنکشور ...

عساکر در مربیعون خواهد بود .

از مان عقب نشینی عساکراسرائیل از جنوب لبنان درروز بیست چارم ماه می این منطقه تحت کنترول مبارزین حزب الله لبنان قرار داشت .

اریتریا او ایتوپیا ...

سملاسی اوربند په باب د افریقا د یووالی د سازمان پیشنهادی پروګرام منلی دی .

په دی پروګرام کی د دواړو افریقایی هیوادونو ترمنځ د اوربند او د سولی د ټینګښت لپاره د نړیوالو ضمانتونو د شرایطو اټکل شویدی .

د دغه پروګرام له مخی د ایتوپیا د اریتریا عسکر باید د جګړی له وخت نه مخکی خپلو پخوانیو پولوته په شا شی .

د افریقا په ختیځ کی د ایتوپیا او د اریتریا هیوادونو دوه کاله مخکی د زرو مربع کیلومترو په مساحت د یوی سرحدی سیمی په سر په جګړو لاس پوری کړ .

له څو میاشتو څخه وروسته دغه جګړه د می په میاشت کی بیا پیل شوه .

امریکی د چیچن ...

عملی کولو فرمان چی دوه یا دری کاله به دوام وکړی د پنجشنبی په ورځ د روسیی د جمهور رئیس ولادیمیر پوتین له خوا صادر شو .

د لبنان له جنوب څخه

پوځونه وکړای شی په دغه ځای کی ځای پرځای شی .

د ملګرو ملتو د سازمان سرمنشی ویلی دی دغه تائید په تیرو څلورو پښتو ساعتو کی ترسره شی .

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: *Abdurrahim Saqeb*

Printed by: Emirat Printing Press

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنۍ
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150